د ملکي خدمتونو د بستونو د دندو لایحه

## د بست په اړه معلومات:

| | |
|---|---|
| د بست د اعلان ګڼه: | |
| د دندې عنوان: | جنسي معتمد |
| بست: | ۷ |
| وزارت یا اداره: | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون |
| اړونده څانګه: | د کمېسیون دارالانشا ریاست |
| د پست ځای: | کابل (مرکز) |
| د بست شمېر: | ۱ |
| راپور ورکوونکی: | خدماتو آمریت |
| راپور اخیستونکی: | نلري |
| کوډ: | |
| د کتنې نېټه: | 1398/11/3 |

**د دندې موخه: د جنسونو حفظ، ساتلو او د جنسونو پر وخت وېش کې د آسانتیاوو راوستل.**

## ځانګړې دندې :

- ✓ ډیپو کې د جنسونو ساتل.
- ✓ د ډول په پام کې نیولو سره په ډیپو کې د جنسونو تنظیمول.
- ✓ د اړوندو ډیپوګانو د جنسونو کلنۍ موجودي.
- ✓ د راوړلو او وړولو په وخت کې د جنسونو لیست کول.
- ✓ په ډیپو کې د حریق ضد وسایلو چک او کنترول.
- ✓ سندونو ته په کتو د جنسونو وېش، د وېش په وخت او له وېش وروسته د وېش هیئت په شتون کې د دروازو مهرولاک کول.
- ✓ د قانون او د راپور رسید (م۷) په رڼا کې د ادارې د جنسونو تسلیمي.

## مدیریتي دندې:

- ✓ د اوونیز، میاشتني، ربعوار، کلني او د اړتیا په وخت کې د راپور ورکول ؛
- ✓ د قانون، مقررو او د کمېسیون د موخو په رڼا کې د هغو ټولو کړنو تر سره کول چې د اړوندو امرینو لخوا ورسپارل شوي وي

## همغږې دندې:

- ✓ د جنس وېش لپاره اړوند هیئت سره همغږي.
- ✓ د (م۷) راپور ترتیبولو په وخت کې د معاینې هیئت سره همغږي.

---

**د ګمارنې شرطونه (د زده کړو کچه او کاري تجربه):**

د دندو دغه لایحه د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون ۷ او ۳۴ موادو په پام کې نېولو سره د لاندې شرطونو او معیارونو په لرلو جوړه شوې:

تحصیلي رشته:

۱. لږ تر لږه بکلوریا سند لرل، د لوړو زده کړو کسانو ته لومړیتوب ورکول کېږي.

کاري تجربه:

د معتمدۍ کاري تجربه لرل اړینه نه ده، تجربه لروونکو کسانو ته لومړیتوب ورکول کېږي.

اړین سندونه:

- ✓ د معتبر ضمانت لرل( غیرې منقول جایداد چې شرعي قباله ولري).

**اړين مهارتونه :**

۲. له ښوونيزو، فني او حرفوي مرکزونو د فراغت سند لرل يا مهارت او کاري تجربه؛

۳. د ورسپارل شويو دندو د ترسره کولو توانايي ولري؛

۴. د رسمي ژبو (پښتو او دري) څخه په يوې حاکميت لرل؛

۵. افراد دارای معلولیت واجد شرایط می توانند برای بست متذکره ثبت نام نمایند. په شرايطو برابر معلول کسان کولای شي ياد بست ته نوم ليکنه وکړي.